مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۲/۲۶

# د اسمان زړه کې

داسمان زړه کې وریځې تل شي ځې ترې لاره ورکه
ښکته او پورته يو دلدل شي ځې ترې لاره ورکه

ګوګل يې وسوځي جوړ تندر طوفان وپنځېږي
اوښکي باران شيبه راتل شی ځې ترې لاره ورکه

ځمکي نه پورته د وحشت ناري دي هر خوا شور دی
د انسان ژوند په اور جل بل شي ځي ترې لاره ورکه

دلته خاورين بنده د حرص پر نيلي سپور ځغليږي
پر خپل بی حال ذهن لل ګل شي ځي ترې لاره ورکه

علم خرد د پاک رب لويه لورينه ده خو
د ناشولتو لاس کې دل شی ځي ترې لاره ورکه

تکنالوژی له چاپيريال کړه سوکالي راتوله
هر پرمختګ يې ستر جدل شي ځي ترې لاره ورکه

د غره په ترږ کې غرځنی له انسانانو تښتي
بې مروته يې اجل شي ځي ترې لاره ورکه

چې د دردمند زړونو اواز د چا تر غوږ نه رسي
بې حسه ژوند يې بې انډول شي ځي ترې لاره ورکه

سوکه سوکه ځي له انسانه مروت محبت
بې خاصيته او شډل شي ځي ترې لاره ورکه

تول کائينات رب (ج) ته ثنا کړي په نغمه د مينې
انسان ماديـاتو سره مل شی ځي ترې لاره ورکه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ